عبدالغفور لېوال

۲۰۲۱/۱۲/۳۱

# نوی نسل او باطله کړی

دا دوړې به کیني، هوا به لږ لږ روښانه شي، اټکلونه به بدل شي، وجدانونه به موږ اړ کړي، چې خپل فکرونه بدل کړو، خپلې ښکنځلې او سپکاوي بېرته واخلو، پر خپلو خرافاتي باورونو وشرمېږو او خپل دوست و دوښمن وپېژنو.

زه دې ته خپه نه یم، چې راروان نسلونه به موږ ملامتوي، چې ولې نه پوهېدو؟

لکه موږ چې خپل پلرونه او نیکونه ملامتوو، چې ولې یې په لارنس ( پیر کرمشاه) پسې کلونه د جمعې لمونځونه کول، خو نه پوهېدل چې انګریز دی؟ او ولې یې دا منله چې د ګوډ ملا د ناستې پر ډبره شنه کبله راشنه کېده؟ ولې یې د مشروطه نهضت اصلاحات ناکام کړل؟ او ولې یې په تذکره کې عکس لګول شرک او بت پرستي ګڼله؟

زه دې ته خپه یم، چې زموږ راتلونکي بچي و لمسي به هم ډله ډله کوم ګاونډ ته روان وي، له استخباراتي مغزمینځونکیو به ټوپک راباروي او زموږ نور لمسي او بچي به پرې وژني او بیا به د هغوی لمسي او بچي هغوی ملامتوي...

کیسه به همداسې روانه وي، خو هېڅ نسل به د تکفیر له ډاره جرئت نه کوي، چې دا باطله کړی له یوه ځایه ماته کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ